س: چاربیته څه ته وائي او د پښتو چاربیتي اقسام په مثالونو سره واضح کړئ

**چاربیته:** د ټپې نه پس په اولسي ادب کښې چاربیته ډېر مقبول او زړه راښکونکې صنف دے. داهم یو ډېر زوړ صنف دے چې پښتانه ئې ډېر په شوق وائي

چاربیته کښې سلګه څنګه چې ئې د نوم نه ظاهرېږي. څلور بیتونه وي. د سر د شمېر نه پس د دې دریې مصرعې وي او څلورمه مصرعه ئې د سر په وزن وي ځینې چاربیتې د سیلابونو په لحاظ اوږدې وي او ځینې لنډې وي

د چاربیتي په باره کښې ویلے کیږي چې دا په څلور بیتونو لړي لیکن همیش خلیل صاحب وائي چې دا سې هم نه ده. چاربیته کښې د درونه تر لسو مصرعو پورې شته

د چاربیتې ډېر ډېرې پراخه ده. په دې کښې شاعران هر څه ځائیوي لکه اوږده قیصه او اوږده جنګونه

**موضوع**

د چاربیتي څه مخصوص موضوع نه وي په دې صنف کښې تاریخي واقعات ودا ستاینه، قیصې، مذهبي واقعات، د جنګونو تذکره او د عشق او محبت سوزنات اظهار کولې شي.

**د چاربیتي شاعران:** ځینې داسې چاربیتې وي چې شاعران ئې معلوم وي او ځینې نامعلوم وي. ځینې

چیرته وائي چې په چار بیته کښې زیاته برخه
د نزالو ده. زنانه پکښې کمه برخه لري. احمد دین
قمر دین، صالح محمد، محمد ایوب خان توکل او اکبر
د چار بیتۍ په ژوره استاذان کښې مشهور دي. معلوم
او نه معلوم شاعران دواړه پکښې برخه لري.

**د چار بیتۍ قسمونه**: کومې چار بیتۍ چې اوس ته
راغلي دي او د هغې بې شماره قسمونه دي. په دې
باندې د همیش خلیل صاحب دوه کتابونه "د چار
بیتۍ څو اړخه شاعران" دي. په هغې کښې قسم قسم
د عوام د خیال مطابق څه پرده نغوته دي.

**ساده چار بیته**: په دې کښې اکثر شاعر د ردیف
خیال نه ساتي او یو خیال ساتي او چار بیته روانه
ځي. په چار بیته کښې شاعر کله بو د شعر کوټ دي
مطلع کیږي. بیا پکښې بندونه کیږي. په هر بند
کښې دوه، درې مصرعې وي، څلورمه یا دریمه بیرته
د مطلع سره هم قافیه راوځي. همغه ټپونه روان وي.
د مثال په توګه:

د یار له راته اوایه صنم چرته دے
زما د سترګو نور د زړه مرهم چرته دے
موده اوشوه چې زه د هغې یار نه وینم
د خپل زخمي زړه مې قرار نه وینم
بې مثله دلدار ګر زما د غم چرته ذے ...
زما د سترګو نور د زړه مرهم چرته دے.

د زنځیرۍ چاربیته:- په زنځیري چاربیته کښې
لومړۍ مصرعه 7 سیلابه وي کله 6 هم وي
دې پسې بله لوړه ټوټه وي هغه تکرار او وزن کښې
وي. دې دواړو کښې یو یو لفظ (بیل بیل) په
طور د قافیې شوی وي (د دوو د بند کړو
دپاره). دغه دوه ټوټې پسې بله پوره مصرعه وي
هم د دغه وزن کښې وي خو تکرار کښې 14 څپې وي
کله 15 هم شي دغه پوره مصرعې پسې بیا بله
پوره ټوټه وي دغه پوره مصرعې سره هم قافیه
وي. دا ټوټه په تکرار کښې د هغه وړو وړو ټوټو
غږه وي

د مثال په توګه:-

بنګړي شال په سر زما
بنګړي پرې ځلونه دي
بنګړي بنګړي خلک مې د دیدن پسې شکوړ دے
بنګړي ټنګ ټکور دے
بنګړي شال زرین لرم
بنګړي سپین جبین لرم
بنګړي یو پیزوان دے په سرو شونډو د مغرور زما
بنګړي شال په سر زما
بنګړي زه یوسه ساتم
بنګړي د دې اسه ساتم
بنګړي د مرې ځکه دواړه سرې شونډې لالونه دي
بنګړي پرې ځلونه دي
مانه لږ نظر او کړه

ښکلې مې اوربل دې الوول پۀ ورو ځو خور دې
ښکلې ټنګ ټکور دې

د معاملې په شکل چار بیته:- ځنې محققین وائي چې په چار بیته کښې د معاملې شکل هم شته. لکه څنګه یو طرف نه اول عاشق عرض کړي او بل طرف نه معشوقه

د مثال په توګه
معشوقه:-

د وروځو خال ځما سر دا دو بینه
دا تور د زلفې مې فوځونه لرم
هلکه توري مې بهادرینه
ځان دې ساته چېرې هکېږونه لرم
ځما صورت د ګلو ښادوینه
په اوربل نه ځو نه تماو بزونه لرم
افسون کړم د جادوګرو په شان
سترګې مې ښکاد کړه له دوربینه سره

عاشق

افسون دې اکړه و جادوګر کا جینې
په ځنځ مه داځه رنځور دې کړمه
دا توري زلفې دې لښکرې جینې
هسې په دار لکه منصور دې کړمه
بیګا و رځم د نا خبرو په شان
چې بوله د بله اکړه و فینه سره

نیمګړې چاربیته :- دا چاربیته هم واضح څرګند وتال لري-
سر کښي او بندونو کښي د مصرعو شمېره نیمې نیمې ټوټې
لري او هم په دا وجه ورته نیمګړې چاربیته وائي

د مثال په توګه :-

خورې ورې د کا ذلفې په رخسار ښې شي
ورکوي د عطرو نم
بلبل ور بسې تل سرېږه چغار ښې شي
زړه مې شو قلم

سوره او کمره بنده چاربیتي :-

دا دوه ډوله چاربیتي تر ډېره حده مماثلت لري.

سوره چاربیته :- سوره چاربیته کښي سر څلور مصرعې وي چې څلور واړه هم قافیه وي- یو بحر او یو وزن وي- بندونو کښي اخرنۍ د سر سره د څلورو مصرعې صرف دوه راوړل شي- د کمره دوه وڅلورو مصرعو کښي یو د چاربیتي د سر د وه وضې چې څلورو کا سره هم قافیه کړې شي او بله د سر دو بیمې چې څلورو کا سره هم قافیه کړې شي.

د مثال په توګه :-

د غم ځمر مې تېر تېر کا لې له یاره
یقین نه دے چې مې اوچ د سترګو لم شي
د مرض احوال مې ووایه دیاره
که زما جانان زما سره همدم شي

سر

بند

دغم عمري تر تېره صدکه تېر کړه
لاڅ پاسه پري دسبوا او دېشت کلونه
بېلتانه معاش دنا دهر، کند بېر کړه
داتلخي مې نه له خلي نه تالونه
که هر خومې صبر حال له ذهره چاپېره کړه
دانه غواړي لیلا ! دسناز لفي و لونه

جوړه

په هېخ رنګ لهدې لاهنه نشم له دبارە
که مې سر دعاشقي په تېغ قلم شي

کړه بنده چاربېته :- کړه بنده چاربېته لېنې هم سرکېنې خلور مصرعې وي خوددې بند ولوکېنې هم لولې مصرعې جوړه جوړه او کړه کړه سره خپلو کېنې هم قافیه وي.

دمثال په توګه:-

وربېر کا یم تکه باران
عمرمې غازي افسر دحانا پکېنې
هینه پتنګ لري د ناره سره
خبرکا لمبې د شا لیماده سره